# نړیوال بانک

اړیکی: په کابل کی: عبدالرؤف ضیا 009370280800
برېښنا لیک : *azia@worldbank.org*
په واشنګتن کی: بنجمن س کرو 473-5105 (202)
برېښنا لیک: bcrow@worldbank.org

خبری خپرونه نمبر:2005/SAR

## نړیوال بانک د افغانستان د ملي یووالي د پروګرام لپاره نوره اضافي بسپنه برابره کړه

**واشنګتن، ۲۰۰۵ ام کال د جون د میاشتې ۳۰ مه نیټه** – نن نړیوال بانک د افغانستان د ملي یووالي د پروګرام د ملاتړ لپاره د۲۸ میلیونو امریکایي ډالرو بسپنه تصویب کړه چې دغه بسپنه به د ټولنې په کچه د هیواد د بیاودانولو، پرمختیا او د محلي اداری کنترول او د لا ټینګښتت لپاره لاژمه منابع برابره کړي. د ملي یووالي پروګرام په ۲۰۰۲ام کال کې پیل شو او له پخوا څخه یې دا لاندې بسپنې ترلاسه کړي دي: د نړیوال بانک د نړیوالې پرمختیایی ټولنې څخه ۱۱۷ میلیونه امریکایي دالره، د افغانستان د بیاودانولو د مالي صندوق څخه ۴۲ میلیونه امریکایي ډالره، او د جاپان د ټولنیز پرمختیایي صندوق څخه ۱۱ میلیونه امریکایي ډالره. دغه پروګرام چې د بیلابیلو منابعو له خوا تمویلېږي د هیواد د ۳۴ ولایتونو څخه په ۳۳ ولایتونو کی په ۱۵۹ ولسوالیو به پلی شي.

د ملي یووالي پروګرام به د زرګونو کلیو لپاره دا لاندې آسانتاوې برابرې کړي: لکه د څښاک اوبه، د کرهنې لپاره د اوبو لګولو شبکې، د کلیو سړکونه، د کورنیو او کلیوالو تولیدي فعالیتونو لپاره د برېښنا کوچنۍ کارخانې، د زده کړې او د ژوندانه د وسائلو د برابرولو پروژې ، ښوونځي، روغتیایي آسانتیاوې او کلینیکونه.

د اوږدې مودې جګړې له امله د افغانستان بنسټیز جوړښتونه په پراخه پیمانه ویجاړ او خلک یې په ډله ایزه توګه بېځایه شوي دي چې په نتیجه کې بشري، ټولنیزې او فزیکي پانګې له منځه تللي دي. همدارنګه، دوامدارې وچکالۍ (د۱۹۹۹ ام کال نه تر۲۰۰۲ ام کاله پورې) د هیواد د کلیوالې سیمې نیستۍ او غربت لا پسې زیاتی کړی. د ملي یوالي پروګرام به دبیا ودانولو او پرمختایي پروژو لپاره تخنیکي مرسته او ټاکل شوې بسپنې برابرې کړي کوم چې دغه پروژې به د دیموکراتیک کړنلارې له لیارې د محلي خلکو له خوا پلان او تنظیم شي.

*د دغې پروژې غوڅ اړخ دا دی چې څنګه د دغو بسپنو د استفادې په هکله پریکړه وشي. د دې لپاره چې د محلي کنترول د لا ټینګښت لپاره اساسات، سلامشورې اوقانوني لاربووونه جوړه شي، نو د پټو رایو له لیارې د ټولنې پرمختیایی شوراګانې وټاکل شوې. دغه شوراګانې به په ټولنه کې د ګډې*

*کړنلارې له لیارې پریکړه وکړي  چې څنګه د دغو پیسو څخه استفاده وشي. د۲۰۰۵ ام کال د مې دمیاشتې پورې د پروژې تطبیقي چارې په ۸۲۶۸ کلیو کې پر مخ رواني وي چې د هغه په ترڅ کې په ۷۳۴۸ کلیو کې د ټولنې محلي شوراګانې وټاکل شوې  او۹۲۴۷ کلیو د پروژو وړاندیزونه وسپارل.*

ښاغلي نورمان پیکشیونې، د کلیو د پرمختیا لپاره د نړیوال بانک متخصص ، وویل: د ملي  یووالي پروګرام ښودلې ده چې د بدلون منونکي امنیتي شرایطو سره سره  په ډیرو کلیوالي سیمو کې دا امکان شته چې د لوړ مقیاس پروژې  په ټول هیواد کې پیل شي.  مهمه خبره دا ده، کله چې د محلي کنترول پروسه  د اوږدې مودې په ترڅ کې پراختیا مومي، نو کیدای شي چې اغیزناکه پایلې ترلاسه شي.

دغه پروژه به  د حکومت اغیزناکتوب زیات کړي کوم چې د هغې په ترڅ کې به د کلیو دپراختیا او بیا رغونې د وزارت سره مرسته وشي  تر څو د دغه وزارت کاري ظرفیت وده ومومي او دغه وزارت  به  د کلیو د پروژو د تطبیق  او مالي چارو په اړوند ستندردونه او کړنلارې رامنځ ته کړي.

په افغانستان کې  د نړیوال بانک  د فعالیتونو په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره د دغې لاندې پتې سره تماس ونیسئ : http://www.worldbank.org/af

د ملي یوالي د پروګرام په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره  د دې لاندې پتې سره تماس ونیسئ:
http://web.worldbank.org/external/projects/main?pagePK=104231&piPK=73230&theSitePK=40941&menuPK=228424&Projectid=P084329

د افغانستان د بیارغونې د مالي صندوق په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره د دې لاندې پتې سره تماس ونیسئ:
www.worldbank.org/arft